## د تړون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

**موضوع:** د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د ManageEngine Log360 Procurement Specification چمتو او نصبولو د تړون ورکولو د پرېکړې خبرتیا:

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې له حکم سره سم ، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري، د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمریت لپاره د ManageEngine Log360 Procurement Specification چمتو او نصبولو تړون د لیوال لمیتد شرکت ته ورکړي، یاد شرکت د 2574-0101 شمېرې جواز لرونکی دی او اصلي ځای یې د کابل مرکز ، 10 ناحیه ، شهرنو کې دی.

یاد تړون د (468،382 ) څلور سوه اته شپېته زره او درې سوه دوه اتیا افغانیو په ټولیزه بیه ورکول کیږي.

هغه حقیقي او حکمي اشخاص چې په دې اړه هر ډول نیوکه ولري، کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې له مخې خپل نیوکه د دلایلو په یادولو سره په لیکلې بڼه د دې خبرتیا د خپرېدو له نېټې څخه تر اوو (۷) تقویمي ورځو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په معنا نه ده او تر هغې چې پورته یاده شوې موده پای ته نه وي رسېدلې او ټول قانوني مراحل بشپړ شوي نه وي تړون نه عقد کیږی.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 2100305(20)0093/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af